مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۹/۲۴

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

دوه نویمه برخه

«کورونا» نا روغي، د لنډیو په غېږ کې

یودېرشمه برخه

زما یې تش دیدن یادېږي
په کورونا نه دی اخته باني کوینه

لالی زما دې روغ رمټ وي
له کورونا نه ځان ساتي خوشاله یمه

چې دا څو ورځې مالوم نه شوې
زه اوس شکي یم، کورنا به یې میینه

جانانه راشه که مې ګورې
کورونا لاړه اوس تازه ولاړه یمه

دا هم څو نوې داسې لنډۍ چې کورونا ستونزې په کې بیان شوې دي:

د کورونا ښامار راغلی
زه یې له ډاره همدا اوس رنځوره یمه

د کورونا ښامار چیچلی
پر ټول وجود یې تبه راغله مړ به شینه

یار کورونا کې ځان لاهو کړ
د کلي نجونې پورې خاندې مړ به شینه

زما یې تش دیدن یادېږي
په کورونا نه دی اخته باني کوینه

کورونا ژر راځي، په ځنډ ځي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که پام ونه شي، عالمونه غرقوينه

حاجت د حال ويلو نه دی
پر ټول بدن دې کورونا لوبې کوينه

لالی زما دې روغ رمټ وي
له کورونا نه ځان ساتي خوشاله يمه

حال مې له مخ نه در مالوم کړه
کورونا راغله ځکه زړه زبېښلی يمه

کورونا اور نه هم بدتره
خوار ورته ناست وي، همدا اور يې سوځوينه

چې دا څو ورځې مالوم نه شوې
زه اوس شکي يم، کورنا به يې مېينه

په کورونا لړليه ياره
ما ته رانشې چې طاقت يې نه لرمه

ما درته وې چې ځان دې ساته
تا نه منله، کورونا دې زوروينه

جانانه داسې وخت به راشي
چې کورونا نه وي بېغمه به درځمه

جانانه راشه که مې ګورې
کورونا لاړه اوس تازه ولاړه يمه

جانانه رحم پرما وکړه
يو دې بېلتون، بل کورونا مې زوروينه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ